


# د پښتونخوا وسائل
# او
# د پښتونخوا مزدوران

د مزدورانو د عالمي ورځې ورومبۍ مۍ په حواله

امجد شهزاد

دا هغه وطن دے چې مور و پلار په کښې د لوږې نه خپل بچي خرڅوي او ډېر داسې واقعات کېږي چې خلق د بې روزګارۍ او لوږې نه خپل بچي او ورپسې خپل ځان ووژني. دلته اوس هم د بې روزګاره خلقو شمېر په کروړونو کښې دے. نن پاکستان د يو ډېر لوئے معاشي بحران سره مخ دے او د دې د بېچ کولو دپاره حکمرانان لګيا دي کچکول په لاس د خپلو خواخوږو نه خېرونه غواړي. پاکستان ته په خېرات کښې ۲۸,۵ د ورکولو وعده شوې ده خو د دې امداد باوجود داسې څۀ نخښې سړي ته په نظر نۀ راځي چې ملک به د دې معاشي بحران نه راوځي. د پښتونخوا نه پس د عسکريت پسندۍ چپه نورو صوبو ته هم خورېږي چې د ټولو خلقو امروزه ژوند ئې متاثره کړے دے. د دغه عناصرو خلاف اوس هم نۀ خو څۀ کوټلې پاليسي موجوده ده او نۀ څۀ موثره اقدامات کېږي. حکمرانان په يوه مخه په يوه څُلۀ د غېر مشروط امداد نعرې وهي.

د دې ټولو خبرو سره سره دلته د توانايۍ يو لوئے بحران هم موجود دے چې د تېرو څو کالونو راهسې ئې د دې ملک هر قسمه صنعت ته لوئے تاوان ورسوو او دغه سلسله لا جاري ده. مونږ به خبره صرف د پښتونخوا پورې محدوده ساتو.

د بجلۍ او ګېس لوډشېډنګ د پښتونخوا اکثر صنعتي يونټونه په هديرو کښې بدل کړي دي او په لکونو خلق پکښې بې روزګاره شوي دي.

ګدون د ايشيا په څنو لويو صنعتي يونټونو کښې شمېرلے کېږي. د صوابۍ دغه وړوکے شان کلے چې د افيمو د پېداوارو دپاره ډېر مشهور ؤ. په ۱۹۸۵ کښې حکومت دلته د افيمو په کر بندېز ولګوو، مقامي ابادۍ د دې نه انکار وکړو او مزاحمت کښې ۲۲ کسان مړۀ شول چې په آخر کښې د جونېجو حکومت د دې په بدل کښې د يو صنعتي يونټ جوړولو منظوري ورکړه او د مقامي ايکشن کمېټۍ سره فېصله هم وشوه چې نوکريو کښې به ۶۵ فيصده کوټه د مقامي خلقو وي. د يوې اندازې مطابق د دې يونټ رقبه ۱۱۱۶ ايکړه ده چې ۶۰۰

پلاټونه پکښې قائم دي. دا کلے د ۳۶۳ کارخانو دپاره ځانګړے کړے شو چې د ایشیا د ټولو نه لوئے صنعتي کلے شو. دلته سرمایه کاري شروع شوه ځکه چې دلته د ټیکسونو او په قرضو د سود په معامله کښې ډېره نرمي وه او نور مراعات هم وو، د کارخانو شمېر دلته ۲۵۰ نه سېوا شو خو د مقامي مزدورانو کوټه صرف ۱۰ فیصده وه. بیا د میا نوازشریف په دور کښې د دې ځائے زیات مراعات بند کړے شو او د پنجاب د کارخانه دارو مافیا د دې یونټ خلاف خپلې هلې ځلې په دغه دور کښې فعالې کړې. د ۱۶۰ نه زیاتې کارخانې بندې شوې او اوس حال دا دے چې په ګدون کښې صرف ۵٤ خواوشا واړۀ لوئے یونټونه فعال دي خو د ګېس او بجلۍ لوډشېډنګ د لاسه دا هم ورو ورو بندېږي. مقامي صنعت کاران وائي چې اوس دلته ٦۰ فیصده مزدوران بې روزګاره شوي دي.



د پنځلس زرو مزدورانو د بې روزګاره کېدو نه پس اوس صرف لس دولس زره مزدوران پاتې دي او کۀ دا حال وي نو دوي به هم ډېر زر د روزګاره لاس ووینځي.

د نوښار او رسالپور د صنعتونو هم دغه حال دے. دلته د پاکستان جوړېدو نه پس لوئے لوئے یونټونه ولګولے شو چې ټېکسټائل او پیپر ملز پکښې اهم دي. اوس هم په نوښار کښې د امان ګړ شبدو او اکوړې په مقام کارخانې چالو دي خو لوئے انډسټریل سټېټ رسالپور کښې لګېدلے ؤ چې اوس هم پکښې ۵۲ کارخانې روانې دي چې د فارماسوټیکل، ماربل، ماچس وغېره کارخانې پکښې اهمې دي. دلته تقریباً ۱۲ زره مزدوران کار کوي. د مقامي صنعت کار اشفاق پراچه د وینا ترمخه دلته هم ٦۵ فیصده مزدوران بې روزګاره شوي دي ځکه چې د لوډشېډنګ په وجه د ۳ په ځائے صرف یو شفټ کار چلېږي.

د پښتونخوا بل لوئے انډسټریل سټېټ د هزارې ډویژن حطار انډسټریل سټېټ دے چې ۲۰۰ کارخانې پکښې موجودې دي او ۲۵ زره مزدوران پکښې کار کوي. د توانائۍ د بحران له وجې د دې ځائے پېداواري صلاحیت هم ډېر متاثره شوے دے او پروډکشن یو په درې کم شوے دے. د حطار انډسټریلسټ ایسوسي ایشن صدر بابرمحمود شېرازي وائي چې سي این جي سټېشنونه د کارخانو دپاره د تباهۍ لوئے سبب دے ځکه چې یو سي این جي سټېشن کم نه کم د ۱۰ کارخانو هومره ګېس خرچ کوي او دغلته صرف ۵ یا ٦ کسان په روزګار وي. دغلته هم اوس صرف یو شفټ چلېږي او د لسو نه دولسو زرو پورې مزدوران بې روزګاره شوي دي.

د ګېس په لوډ شېډنګ کښې زمونږ د صوبې خاص برخه کولې شي. د دې وجې نه د پېښور د حيات اباد انډسټريل اسټېټ ۱۷۰ کارخانې په مکمله توګه بندې دي او د بجلۍ او ګېس د کموت له وجې د پېښور د کوهاټ روډ سمال انډسټريز سټېټ ټولې کارخانې په مکمله توګه متاثره شوې دي چې له کبله ئې په دغه کارخانو کښې د دياړۍ په حساب کار کوونکي ټول مزدوران بې روزګاره شوي دي او په مياشتنۍ تنخواه کار کوونکي مزدوران په لې آف لېږلي شوي دي چې نيمه تنخواه ورته ورکولې کېږي. د حيات آباد په انډسټرېل سټېټ کښې ټول ۲٤ زره مزدوران کار کوي چې ۱۰ زره پکښې د ورځې د حساب دياړي مار دي چې دوي کورونو ته لېږلې شوي دي. د کوهاټ سمال انډسټريز نه څۀ دپاسه زر مزدوران کورونو ته لېږلې شوي دي.

زمونږ بل لوئې پېداواري يونټونه په سوات کښې وو چرته چې د ټوکي او کاسمېټکس يو شمېر کارخانې وې، د هغې په تفصيل کښې خو ځکه نۀ ځو چې څو کلونو کښې چې هلته څۀ وشو نو د کارخانو چلېدو پکښې څۀ سوال نۀ پاتې کېږي. دغلته د عامو خلقو د کاروبارونو د تباهۍ او بې روزګارۍ سره سره د دغه کارخانو زرګونه مزدوران هم بې روزګاره شوي دي.

په کاسمېټکس فېکټريو کښې مزدوري ښځو کوله چې اوس پرې د طالبانو له خوا بنديز لګولے شوے دے او کۀ امن را هم شي خو دغه زنانه دوباره په روزګار کېدے نۀ شي.

زمونږ صوبې ته د ټول ملک د ګېس د پېداوار صرف ۵،۲ فيصده ورکولے کېږي چې صنعتونه پکښې صرف ۰،۲ فيصده استعمالوي.

غضب خو دا وشو چې د کرک د ګرګرۍ ګېس ئې د مېن کوډ سره منسلک کړو نو پښتونخوا ئې د توانائۍ بحران ته حواله کړه. د تېرو څو کلونو راهسې د پښتونخوا د جنوبي علاقو کرک او کوهاټ نه په لوېے کچ د تېلو او ګېس ذخيرې راوښکلې کېږي. د مکوړۍ نه هره ورځ شل مليونه مکعب فټ ګېس او پنځۀ نيم زره بېرله تېل راوځي. د دې نه زيات پېداوار د منزلۍ نه کېږئ چې د ګېس کچ ئې پنځوس مليونه مکعب فټ دے او د دغه ځائے د تېلو د کوهو نه شپږ سوه بېرله تېل ترلاسه کېږي او دغلته د يو بل پېداواري يونټ نه دوه اويا مليونه مکعب فټ ګېس او شپاړس سوه بېرله تېل راوځي. د موجوده ريکارډ مطابق يو سل او دوه څلوېښت مليونه مکعب فټ ګېس او اووۀ نيم زره بېرله تېل په يوه ورځ کښې راوېستے شي. دغه تېل په ټېنکرو کښې پنجاب او کراچۍ ته وړلے شي او د ګېس دپاره پائپونه تر

**د ميا نوازشريف په دور کښې د دې ځائے زيات مراعات بند کړے شو او د پنجاب د کارخانه دارو مافيا د دې يونټ خلاف خپلې هلې ځلې په دغه دور کښې فعالې کړې. د ۱٦۰ نه زياتې کارخانې بندې شوې او اوس حال دا دے چې په ګډون کښې صرف ٥٤ خواوشا واړۀ لوئے يونټونه فعال دي**

ملتانه غزولې شوي دي خو د کرک ضلع اوس هم په خشاک اور بلوي. دغه ذخیره د چا پکار راځي او ملکیت د چا دے؟ دا سوالونه به څوک حل کوي؟

د بجلۍ د ټولو نه ارزان پېداوار هم پښتونخوا کښې کېږي خو بیا هم په مونږ ګېس او بجلي بنده ده. زمونږ صنعتونه د تباهۍ په لور روان کړے شوي دي... دا ولې؟ باید چې مونږ په دې سوچ وکړو.